## د ویتنام حماسه
## د امریکې رسوایي
## م. بنیامین
## ژباړه: سرمد
## (لومړی برخه)

د ویتنام ولس له امریکي سره په جګړه کي حماسه وزیږوله
د امریکي امپریالیزم له ویتنام سره په جګړه کي رسوایي وګټله

له خپلواکی او آزادۍ پرته بل خوږ څه نشته
هوشي مین





په ټولې نړۍ کې،
د دې خاورې پر سر
هر چېرې او هر کله
یو ملت سر راپورته کوي
څو خپل لاسونه او پښې
د ستم او استثمار له بندونو څخه
خلاصې کړي
او د آزادۍ او خپلواکۍ پولو ته
ورسیږي.
د امریکې په نوم اختاپوت



چې د اته پښو پر ځای
اته زره پښې لري
او د نړۍ د اختاپوتانو مخکښ دی
د پنځه ستورو جنرالانو
او د شین سترګو سرتیرو په مټ
د توپ او ټانک او جنګي بیړیو
او بم غورځونکو او الوتکو تر شا
د یوه ملت په وړاندې درېږي
او وایي چې:



زه یم د نړۍ د کمزورو هیوادونو واکدار
نو، هرڅه چې غواړې
باید زما نه یې وغواړې
هغه هم امریکایي ډوله
یعنې:
امریکایي آزادي!
امریکایي خپلواکي!
او هر څه،
د امریکې د بشري حقونو تر سیوري لاندې!
داسې ملتونه شته چې یا له ډاره
تسلیمیږي
یا د خپلو پلورل شویو رهبرانو لخوا
تیرایستل کیږي
او له مبارزې څخه لاس په سر کیږي
او په همدې امریکایي آزادۍ!
امریکایي خپلواکۍ!
او د امریکې د بشري حقونو تر سیوري لاندې!
زړه خوشحالوي.

خو،
هغه ولسونه چې
دغه ځانځاني ځناور په ښه ډول پیژني
او د اوږدو مبارزو په ترڅ کې
د هغه په ماهیت پوه شوي
د هغه د عوامفریبۍ په وړاندې
له خپل ټټر څخه ډال جوړوي
او غبږ پورته کوي، چې
نه!



خو،
هغه ولسونه چې
دغه ځانځاني ځناور په ښه ډول پیژني
او د اوږدو مبارزو په ترځ کې
د هغه په ماهیت پوه شوي
د هغه د عوامفریبی په وړاندې
له خپل تیتر څخه ډال جوړوي
او غږ پورته کوي، چې
نه!



او په دې ډول
اختاپوت په قهریږي
خپله لکی خوځوي
خپلې شونډې په غاښ چیچي
څکه د جوړجاړي لارې د هرې خوا نه تړلې ویني
خپلو بې اراده سرتیرو ته د یرغل
فرمان ورکوي
او هغوی څمکه او زمان په اور لړي

او داسې ګومان کوي چې



په توپ او ټانک او جنګي بيړيو
او په بم غورځونکو او عوامفريبی سره
بريالي کيدای شي
او پر زړونو حکومت کولای شي.
تاريخ ټل
تر ټول ګويا شاهد دی
او د ويتنام سرګذشت
د تاريخ تر ټولو ښه شاهد.
د ويتنام ولس
پيری پيړی وړاندې
يو ملت و
په يوې ژبې يې خبرې کولې
د يوې پولې په محدوده کې يې ژوند کاوه
او د پخواني کلتور خاوند
د پرديو د يرغل پر ضد يې
د مقاومت او ميراني اوږد دود درلود



د ويتنام ولس
د فرانسوي ښکيلاکګرو د واکمنی پر ضد
له اتيا کالو مبارزې وروسته
د دويمې نړيوالي جګړې په پای کې
د هوشي مين تر مشری لاندې
او د نړی د پرمختللو ځواکونو په مرسته
په ټول هيواد کې
د ويتنام دموکراتيک حکومت
جوړ کړ.
له هغې وروسته
ملت د اسارت له بند څخه خلاص شو،
او ټولو
د سولې او سوکالی په سيوري کې
په کار او هڅې پيل وکړ.







د سولې او بیارغونې هغه ورځې
ځومره ښکلې وې.
ټول ویتنام
په سولې او آرامۍ کې و.
هرې خوا د پخلاینې او ملګرتیا فضا وه.
آسمان شین
د مرغانو نغمې په زړه پورې
او سلام او روغبړ
له شور او شوق او مهربانۍ څخه ډک وو.
ماشومانو په هر ځای کې
له اندیښنې پرته
په خوشحالۍ سره په آزادې هوا کې لوبې کولې.
د ژوندانه څرخ
له کلونو جګړو او کړاونو وروسته
له کلونو وینې او اور وروسته
له کلونو مړینې او ژوند وروسته
یو وار بیا په حرکت راغلی و.
ټول د بیارغونې په حال کې وو
کنډوکپر سړکونه یې هوارول
ویجاړ پلونه یې بیارغول
بمباران شوې کروندې یې اړولې
ویجاړ کورونه یې جوړول
او ښوونځي یې
چمتو کول.
خو له بده مرغه،
د دې آزادۍ لمر
ډیر ژر پریوت.
ځکه چې د دښمن زړه
یخ شوی نه و،
او په موذیانه ډول په کمین کې ناست و.
آخر څرنګه یې لیدلای شول
چې یو ملت هڅه کوي
پر خپلو پښو ودریږي
او نور نه غواړي
د پردیو اسارت ومنې.
او نور د پردیو په لاس
د خپل ټاټوبي د شتمنیو لوټ نه مني
دا ځل هم دښمن هماغه دښمن و
یوازې خپل نوم یې بدل کړی و
فرانسه تللې وه

امریکه په لار کې وه.



